ګلرحمن رحماني
۲۰۲۶/۰۴/۱۳

# پـراګـراف

په لیکوالی کې مناسبه نه ښکاري چې لیکنه دې له پیل نه تر پایه پورې یو سرې متن وی، د لیکوالي اصول ایجابوی چې هره لیکنه د مانا رسولو او د لوستونکي د اسانی له پاره د بند یا پراګراف په نوم کوچنیو ټوټو سره یو له بل متمایزه یا جلا شي.
پاراګراف د څو جملو ټولګه ده چې یوه ځانګړې موضوع رانغاړي.
دغه توپیرول یا تمایز معمولا له دوو لارو تر سره کېږي. یو دا چې نوې ټوټې یا قطعې ته د کرښې له سره (indentation) یو څه واټن ورکړل شي، بله داسې لکه دې لیکنه کې چې ترې ګټه اخیستل شوې، د قطعاتو تر منځ واټن دی چې دې کار ته پراګراف بندي وايي.
دا روش په لیکنه کې د یوه له کاره لوېدلي روش په توګه کارېږي. هغه لیکنه چې حتی مخ یا پاڼه یې په داسې قطعاتو چې مخکې یې یادونه وشوه، نه وي وېشل شوې، تر هر څه وړاندې نا عادي ښکاري او شخص یې له لوستنې سره لېوالتیا نه پیدا کوي.
پراګراف بندي د یو لړ قواعدو تابع ده چې رعایت یې د لیکوال د منظور درک اسانه کوي، د پراګراف بندي له موازینو سره اشنا لیکوال پوهېږي چې له یوه پراګراف باید څه تمه ولري، له دې امله خپله پاملرنه د یوې یوې کلمې پر ځای د پراګراف پیغام ته اړوي او دا چاره د چټکي لوستنې سبب ګرځي.
پراګراف ذهن ته د موضوعاتو په سپارلو کې هم اساني رامنځته کوي، دلیل یې دا دی چې ذهن طبقه بندي شوي مطالب چې هر پراګراف د جلا او خپلواک پیغام لرونکی وي، اسانه کوي، خو که چېرته دا ډول مطالب په ګډوډ ډول بیان شي، یو له بل څخه یې تفکیک ګران دی، کله چې یوه موضوع د یوه مستقل پراګراف په توګه انشاء کېږي، نو موږ په اسانی سره ویلای شو چې پراګراف څه وايي.
انسان هسې هم د پراګراف بندي شوي متن لوستنې ته د ډېر تمایل احساس کوي، ځکه چې شخص طبیعتا هم دا خوښوي چې د یوه متن لوستل په ځانګړي ځای کې ودروي، د هر پراګراف پای د توقف او استراحت دغه فرصت ایجادوي. لوستونکی دا وايي چې لږ تر لږه یو دوه پراګرافه ووایم او وګورم چې خوښ شوی مې دی که نه؟
خو ددې برعکس له پر له پسې او تړلو کرښو نه جوړه پاڼه په انسان کې د مطالعې لپاره دغه رواني خنډ په داسې توګه جوړوي چې د متن لوستنې په پیل کې یوه ناپایه تعهد ته ځان ورکوي. له دې امله انسان دې ته تمایل پیدا کوي، څو تر خپل توانه هڅه وکړي چې د دا ډول لیکنې مطالعه وځنډوي.
پراګراف بندي درې قاعدې لري. یو دا چې هر پراګراف باید د یوې موضوع لرونکی وی. دویم دا چې د پراګرافونو تر منځ دې اړیکه او پیوستون موجود وي، یاني کله چې ورپسې پراګراف ته رسېږو، نو موږ ته په بشپړ ډول مستقل او له انتظاره لرې نه وي. دریېم دا چې پراګرافونه له استثنایي مواردو پرته ډېر اوچت نه وي.

**یو پراګراف یوه موضوع**

د اوسنیو اعتقاداتو له مخې د یوه متن پراګراف بندي کې مهم اصل دا دی چې یو پراګراف دې یوې موضوع ته ځانګړی شوی وی. دا قاعده چې یوه موضوع دې الزاما تر یوې مسئلې پورې منحصره شي، سمه نه ښکاري، ځکه چې کولای شو د اقتضا له مخې څو مسایل په یوه پراګراف کې بیان کړو.
پراګراف هغه مسئلې یا مسائل را اخلي چې په محور جمله (topic sentence) کې تعرفه یا معرفي کېږي. دا جمله الزاما نه، بلکې معمولا د پراګراف په پیل کې راځي، دا جمله ددې ټاکونکې وي چې د یوه پراګراف موضوع باید څو مسایل را ونغاړي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که یو متن داسې پیل شي چې ((د متن د قرائت اسانتیا د پراګراف بندي تر ټولو مهم اصل دی.)) نو انتظار مو دا وي چې پاتې پراګراف د همدې یوې موضوع په اړه خبرې کوي، خو که چېرته ( او درک) هم د (قرائت) له کلمې وروسته په همدې محوري جمله کې ور زیات شي، نو پراګراف باید دواړه مسایل (د قرائت او درک اسانتیا) را ونغاړي.
هغه څه چې د( یو پراګراف یوه موضوع) قاعدې تر پښنو لاندې کولو لامل ګرځي، دا دی چې د پراګراف یوه برخه موضوع ته مخه کوي او وروسته ورڅخه یو په یو په ناڅاپي ډول د بلې مسئلې معترض شي. مثلا دا چې مطلوب پراګراف په مخکیني بند کې په (د متن د قرائت اسانتیا د پراګراف بندي تر ټولو مهم اصل دی) محور جمله سره پیل شي او له څو جملو وروسته یې په پای کې د (درک) له تسهیل یا اسانتیا په اړه خبرې راوړي.
ددې لپاره چې د (یو پراګراف یوه موضوع) قاعده رعایت کړو، مناسب ازمایښت دا دی، څو وګورو چې ایا کولای شو مطلوب پراګراف ته خپلو مندرجاتو ته په پام سره یو واحد عنوان ورکړو. دغه عنوان په واقعیت کې منطوقا یا مفهوما همغه محور جمله ده چې پاتې پراګراف یې باید د بیان لپاره راوړل شي.
دا پراګراف او پنځه پخواني پراګرافونه (په ټوله کې شپږ پراګرافونه) تر ((الف: یو پراګراف یوه موضوع )) عنوان لاندې کېدای شي په ترتیب سره له پاسه تر پایه پورې په دې ډول وي:

1. د (یو پراګراف او یوه موضوع قاعده) او شرط یې؛
2. محور جمله؛
3. د هغه محور جملې بېلګه چې پر یوه یا څو موضوعاتو مشتمله وي؛
4. د (یو پراګراف یوه موضوع) قاعدې د نقض یوه بېلګه؛
5. د (یو پراګراف یوه موضوع) قاعدې د رعایت ازمایښت او بالاخره
6. اوسنی پراګراف، د شپږو پراګرافونو لپاره د عنوان ټاکل.

**۱-۲) تړاو یا پیوستون**

پراګرافونه باید یو له بل سره تړاو یا پیوستون ولري، داسې چې کله ورپسې پراګراف لولو، که یې موضوع متفاوته هم وي، داسې احساس ونه کړو چې په بشپړ ډول یوې مجزا(تجزیه شوې) مقولې ته تللي یوو، دغه پیوستون کولای شو چې د مفهوم نښلونې د رسۍ په وسیله او یا هم د موضوع د کلیدي کلمو په تکرار سره په پراګرافونو کې رامنځته کړو.
ددې بېلګه مخکې ذکر شوي یا ترتیب شوي شپږ پراګرافونه دی. د دوی تر منځ نښلونه د مضمون د یو والي یا په پراګراف کې د موضوع د کلیدي کلمو د تکرار له لارې شوې ده.
د پراګرافونو پیوستون د یوې لیکنې لندون د مضمون له وحدت او د دوی تر منځ د محسوس ارتباط څخه یو له بل سره نښلوي. د کلیدي کلماتو تکرار هم د ارتباط په ټینګښت کې مرسته کوی. د پراګرافونو اتصال په ذهن کې د مضمون د روانی له لارې رامنځته کېږي.
د پراګرافونو پیوستون غالبا د هغو کلمو او عباراتو له لارې چې نښلوونکی نقش لري، حاصلېږي. ددې کلماتو یا عباراتو بېلګې چې د پراګرافونو په ابتدا کې کارېږي، عبارت دي له: لکه چې، په دې توګه، سره ددې، په داسې حال کې، پر دې سربېره، [مخکیني پراګراف ته اشاره]، ددې موضوع د تایید بل دلیل دا چې...، له دې امله، لا هم، هېره دې نه وي، باید وویل شي، په همدې ډول د اصلي او ترتیبي اعدادو کارونه...
که چېرته پراګرافونه باندې شمارې ولګول شي، نو د پراګرافونو د پیوستون لپاره هڅو ته کمه اړتیا پیدا کېږي. لوستونکی د شمارو په لیدلو سره د پراګرافونو د نامحسوس تسلسل انتظار نه لري.
په انګریزي ژبه کې د پراګراف هره شماره کولای شي یوازې د یوه پراګراف مُعَرف وي، نیم پراګراف (تر ټولو کوچني پراګرافونه د تر ټولو سترو پراګرافونو منځ کې) مجاز نه دی. خو په ورته وخت کې د هالنډي ژبې په لیکنه کې کولای شو چې یو یا څو نیم پراګرافونه په اصلي پراګرافونو کې راوړو. د نیم پراګراف لیکنې دغه امکان د هغه مطلب د بیان لپاره ګټوره وسیله ده چې له مخکیني پراګراف سره نه بشپړ اتصال (پیوستون) لري او نه هم بشپړ انفصال(جلاوالی)

**د پراګرافونو اندازه**

د پراګراف بندي حکمت چې مخکې یې شرحه تېره شوه، ایجابوي چې پراګراف باید اوږد نه وي، مثلا که محور جمله کې راشي چې ((دغه موضوع باید له لسو لیدلورو نه وڅېړل شي.)) او وروسته باید په همغه پراګراف کې ددې لیدلورو نوم واخلو، یو په یو بحث وکړو. د پراګراف له حده زیات لوی والي اندازه او لوستل یې د بېزارۍ او ستړیا سبب ګرځي.
له دې امله غوره ده چې په دې پراګراف کې ۱۰ موارد ذکر کړو او په پای کې ووایو چې اوس به دغه ۱۰ واړه مواردو ته مخه کړو. دلته بیا پر دې مسایلو په وروستیو پراګرافونو کې په متناسبو اندازو بحث کوو.
د بېلګې په ډول که چېرته له لسو مسایلو څخه لس وکولای شي چې د یوه پراګراف په قالب کې په یوه متناسبه اندازه طرحه شي، کولای شو چې یو له بل سره یې متصل کړو. مثلا کولای شو چې ووایو چې (( د درېیو مواردو په اړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

... زياته توضيح اړينه نه ده، د لومړۍ مسئلي په اړه کافي ده چي پوهېږو... د دويمي مسئلي په اړه هم له دې يادوني سره چي ... بسنه کېږي. د دريېمي مسئلي په اړه هم يوازې اړينه ده څو ووېل شي چي ...))

ممکن څلورمه مسئله د دريېو لومړيو مسئلو خلاف په يوه کامل پراګراف کي په مناسبه اندازې سره د بحث اقتضا ولري، په دې صورت کي ياده شوې موضوع په يوازې توګه په محور جمله کي راوړو او وروسته بيا ټول پراګراف دغه مسئلي ته ځانګړى کوو.

پنځمه مسئله ممکن تر دې حده مفصله وي چي له يوه پراګراف نه زياتو ته اړتيا ولري، په دې فرضيه کي کولاى شو چي له لومړي پراګراف نه د محور جملي په توګه استفاده وکړو. مثال: په پنځمه مسئله کي خپله څو مطلبه شامل دي، يو دا... بله دا... او بالاخره دا چي...او بيا وروسته کولاى شو چي تعرفه شوي مطالب په کي د مرتب لف و نشر ادبي صنعت په طريقه په ورپسي پراګرافونو کي تر بحث لاندې ونيسو.

د پنځمي مسئلي په اړه د بحث تر پاى ته رسېدو وروسته بايد شپږمه مسئله له دې يادوني سره چي دغه شپږمه مسئله له لسګونو مسائلو څخه ده، پيل شي. د بېلګي په ډول بايد ووايو چي((له لسو مسئلو څخه شپږمه مسئله اختصار ده)) او وروسته په تفصيل سره دغه محور جملي ته مخه کوو. دغه يادونه له دې جهته اړينه ده چي لوستونکى په دې سبب چي څو پراګرافونه پنځمي مسئلي ته ځانګړي شوي، له مطلبه لرې شوى دى او امکان لري چي د کلام ترتيب يې له ياده وېستلى وي.

د پراګراف انداز د متن په موضوع او طبيعت سره تړاو لري، حتمی به مو دې ته پاملرنه کړې وي چي د ورځپاڼو پراګرافونه ډېر لنډ وي، دليل يې دا دى چي ورځپاڼه هغه علمي متن نه دى چي له لوستونکي څخه يې د فهم لپاره د زيات فکري تمرکز، غور او پر له پسي فکر کولو تمه ولرو، موخه دا ده چي لوستونکى وکولاى شي ورځپاڼي ته په يوه اجمالي نظر سره د پراګراف پيغام تر لاسه کړي، د پراګرافونو متعارفه اندازه په دې کتاب کي د مطلوبې لايحي له مخي همغه د سريزې د پراګرافونو اندازه ده.

که مو پاملرنه کړې وي، د سريزې يا غورچاڼ د پراګرافونو اندازه ددغه کتاب له پاتې پراګرافونو سره توپير لري. سريزه(ديباچه) لکه د لايحو متن يوه استدلالي (argumentative) ليکنه ده. په دې ځاى کي ليکونکى له د قضايي مسلکونو د نورو صاحبانو څخه د دعواوو د يوه وکيل مهارت د بنسټيز توپير په باره کي خپل نظر ته د قبوليت ورکولو په هڅه کي دى، هغه مسئله چي په وضاحت کي هم تل له پامه غورځېدلي او هېره شوې ده.

ددې برعکس د کتاب د طبيعت متن عمدتا توصيفي(descriptive)، تشريحي(expositive) او نقلي(narrative) دى. د خپل نظر قبوليت په برخه کي اصرار نشته، د نيولو شوو او وړاندې شوو نظراتو داوري عمومي اطلاعاتو او د لوستونکي سليم عقل ته پرېښودل شوې ده.

په اوسنيو اثارو کي تر ټولو زياته پاملرنه د پاګرافونو لنډون ته کېږي، له دې کار نه موخه په تر ټولو ټيټ او ممکن تمرکز سره د مطلب درک ته د لوستونکي پياوړي کول دي. لوړ پراګرافونه استثنايي جنبه لري او په هغه مواردو کي موندل کېږي چي له دې ډلي څخه:

1. مطلب استدلالي جنبه لري؛
2. مسئله تر دې کچي پورې يو ځايي يا تړلي بيان ته اړتيا ولري چي د مطالبو جلا کول د موضوع پر انسجام يا د هغو اغېز ته زيان رسولى دى، يا دا چي
3. موضوع ورته له يوه پراګراف نه د زيات اختصاص اقتضا نه وي درلودلې.

پاى



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ